Pashto



# روغتيايي معلومات لا سالم کوي
# (Making heath information healthier)
## Connect Care

د نورو معلوماتو لپاره
**ahs.ca/connectcare**
ته مراجعه وکړئ

Alberta Health Services

## Connect Care زما پاملرنې ته څنګه بدلون ورکوي؟
## (How does Connect Care change my care?)

تاسو کولای شئ د همداسې لوړ کيفيت لرونکې پاملرنې تمه ولرئ، مګر کېدای شي چې ځينې توپيرونه وګورئ لکه و به ګورئ چې ستاسو چمتو کوونکي نور کمپيوټرونه او لاسي وسايل کاروي. موږ دا کاروو تر څو ستاسو د پاملرنې تعقيب وساتو.

Connect Care به پر تاسو له لاندې لارو تمرکز وکړي:

- تاسو ته د غوښتنې په صورت کې خپلو روغتيايي معلوماتو ته د MyAHS Connect آنلاين وسيلې له لارې لاسرسی درکوي
- تاسو ته اجازه درکوي تر څو د خپل پاملرنې له ټيم سره تعامل وکړئ او ستاسو په روغتيايي سوابقو کې موجود معلومات مديريت کړئ
- ستاسو د روغتيايي پاملرنې له چمتو کوونکو سره اړيکو ته بهبود ورکوي
- د روغتيا پالنې ټيمونو ته ستاسو د روغتيا په اړه لا بشپړ انځور ورکوي
- ستاسو د پاملرنې په سفر کې د روغتيا پالنې ټول ټيم ته غوره شوني معلومات ورکوي

د نورو معلوماتو لپاره
**ahs.ca/connectcare**
ته مراجعه وکړئ

## MyAHS Connect ستاسو روغتيايي معلومات ستاسو په لاسونو کې ږدي
## (MyAHS Connect puts your health information into your hands)

که چېرته تاسو په داسې سايټ يا پروګرام کې پاملرنه ترلاسه کوئ چې له Connect Care څخه ګټه اخلي او د هويت له معتبر تاييد سره لږ تر لږه 14 کاله عمر لرئ، نو تاسو دا وړتيا لرئ چې MyAHS Connect ته د لاسرسي غوښتنه وکړئ.

د دې لپاره چې د MyAHS Connect حساب تنظيم کړئ:

1. خپل د روغتيا پالنې ټيم ته وواياست چې تاسو غواړئ خپل MyAHS Connect حساب ته لاسرسی ولرئ.
2. د Alberta.ca يو حساب myhealth.alberta.ca/myhealthrecords ته په مراجعې سره پرانيزئ
3. MyHealth Records ته د myhealth.alberta.ca/myhealthrecords له لارې مراجعه وکړئ او هغه کارن نوم او پاسورډ داخل کړئ چې تاسو جوړ کړي دي.

MyAHS Connect تاسو ته اجازه درکوي تر څو:

- معلوماتو ته لاسرسی ولرئ او خپل د Connect Care جدول ته تبصرې او سمونونه اضافه کړئ.
- د Connect Care د روغتياپالنې له ټيم سره په خونديتوب اړيکې ټينګې کړئ او معلومات ورسره شريک کړئ.
- د ليدنو درخواست وکړئ او تېرې او راتلونکې ليدنې وګورئ.
- په خپل کلينيک کې د پاملرنې له ټيم سره ويډيويي ليدنې ولرئ که چېرته د لاسرسي وړ وي.

د MyAHS Connect د MyChart® له لوري تمويلېږي او د Epic Systems Corporation, © 1999-2023 له لوري جواز ورکړل شوی دی

په مهربانۍ سره په ياد ولرئ هغه مطالب او معلومات چې په MyAHS Connect کې را څرګندېږي، يوازې په انګليسي ژبه د لاسرسي وړ دي.

Alberta Health Services



## ستاسو د روغتیا یو ډېر بشپړ انځور
## (A more complete picture of your health)

Connect Care د روغتیایي خدمتونو هغه تګلاره بدلوي چې د Alberta Health Services، د هغوی شریکان او نور پرې په Alberta کې روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

دا به ستاسو ټول روغتیایي معلومات په یوه ځای ذخیره کوي او هغه ځای ته به ځي چې تاسو د خپلې پاملرنې په سفر کې ځي. تاسو به له بېلا بېلو چمتو کوونکو سره د خپلې "مخینې" په شریکولو سره کم وخت لګوئ ځکه چې هغوی به د مخه دا لري.

که چېرته تاسو د Connect Care په سایټ کې پاملرنه ترلاسه کوئ، نو د ناروغانو یوې نوې آنلاین وسیلې ته د لاسرسي غوښتنه وکړئ چې نوم یې MyAHS Connect دی. MyAHS Connect به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو د خپلې روغتیایي پاملرنې یو ډېر فعال غړی شئ، تاسو ته به فرصت درکړي تر څو خپل هغه روغتیایي معلومات وګورئ چې د AHS خدمتونو له لوري چمتو کېږي او تاسو ته دا وړتیا درکوي چې له خپل حساب څخه د خپلو ماشومانو او د کورنۍ د نورو غړیو روغتیایي معلوماتو ته د لاسرسي غوښتنه وکړئ.

## د Alberta Health Services او شریکانو په کچه د لاسرسي وړ
## (Available across Alberta Health Services and partners)

Connect Care په ټوله Alberta کې په څو کلونو کې په پړاوونو کې معرفي کېږي. دا به په لاندې ځایونو کې د لاسرسي وړ وي:

- د Alberta Health Services سایټونه، د روغتونونو او روغتیاپالنې د مرکزونو په ګډون
- Carewest
- CapitalCare
- Covenant Health
- Lamont Health Care Centre
- Alberta Precision Laboratories (APL)
- DynaLIFE Medical Labs
- نور ډېر کلینیکونه او معاینه خونې

## ستاسو محرمیت ته ژمن دی
## (Committed to your privacy)

AHS ژمن دی چې ستاسو محرمیت خوندي کړي او ستاسو روغتیایي معلومات خوندي وساتي ــ دا سم کار دی او قانوني کار دی.

هر څوک چې له Connect Care څخه استفاده کوي روزنه ورکړل شوې ده تر څو تاسو ته لومړیتوب درکړي. په دې کې ستاسو محرمیت ته درناوی کول شامل دي، هغوی ستاسو روغتیایي معلوماتو ته لاسرسی یوازې تر هغو چمتو کوونکو پورې محدودوي چې ستاسو لپاره د پاملرنې د چمتو کولو لپاره اړتیا ده هغه وګوري. Connect Care داسې وسایل لري تر څو وڅاري او نظارت وکړي چې څوک ستاسو معلوماتو ته لاسرسی لري چې په دې توګه د روغتیایي معلوماتو د پالیسیو له تعقیبېدو څخه ډاډ حاصل شي.

Connect Care به همدارنګه د کمپیوټر د هغو سیستمونو شمېر را کم کړي چې موږ یې کاروو، تر څو وکولای شو په خپل سایبري امنیت د تمرکز هڅې ډېرې کړو.

د معلوماتو خوندیتوب مهم دی. د ناروغ ټول معلومات د AHS په خوندي سرورونو کې په Alberta کې دلته ذخیره کېږي.